محمد هارون خپل شعشعي

۱۱ دسمبر ۲۰۱۱


## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۲۶

**۷۲- دعرفاني رازو ساتنه :**

په اسلامي تصوف او عرفان کي د اسرارو ساتنه د طريقت له واجباتو څخه ګڼله کيږي؛ او هغه څوک د جدي خبرداري او ايداد وړ بولي، چي د عرفاني سير او سلوک د پټو رازو وخوندي کولو ته پام نه کيي( کوي). ابوبکر دلف بن جحدر يا دلف بن جعفر يا جحدر بن دلف يا دلف بن جعتره شبلي قدس الله روحه ( ۲۴۷هـ ق/ ۸۶۱ ع - ۳۳۴هـ ق/ ۹۴۶ع) وايي : « هغه ورځ، چي حسين منصور [ حلاج ] قدس الله روحه د الهي ميني د نذراني په توګه په دار و ځړول سو، د هغه په وړاندي ودرېدم؛ او له لوی پروردګار څخه مي د دې پېښي د حکمت په اړه پوښتنه وکړه . په جواب کي داسي خطاب وسو : « يا دلف کوشف بسر من اسرار نا فافشاهاً فنزل به ماترى » ياني اې دلفه ( د شبلي نوم ) هغه ( منصور حلاج ) ته مي يو راز ور وښيه؛ خو ده هغه ښکاره کئ؛ او اوس داسي پېښ سوه، چي ګورې يې ۱ . »

د اسلامي تصوف او عرفان د لوی انګرېز ليکوال او څېړونکی - پوهاند ر. ا. نيکلسن ( ۱۸۶۸- ۱۹۴۵ع ) په عقيده، حسين بن منصور حلاج ( ۲۲۴ - ۳۰۹ هـ ق ) د حقيقت په وړاندي ګونا و نه کړه؛ مګر له دې امله يې ايداد وليدئ، چي د قانون په وړاندي يې لوی جُرم وکړ . منصور حلاج هغه راز و ټولو خلګو ته څرګند کړ، چي يوازي يې بايدخپل خليفه ته ساتلئ وای . حلاج د سُکر او بې هوښۍ تر اغېزې لاندي خبري وکړې؛ او داسي ری واهه، چي د خدای تعالی له ذات سره يوسوئ دئ؛ په داسي حال کي چي، هغه ايله يو الهي صفت تر لاسه کړئ ؤ . حلاج [ په خپلو شطحياتو سره ] غوښته دا خبره څرګنده کړي، چي د خدای او د هغه د

مخلوقاتو تر منځ څه ارزښتناک توپیر یا بېلوالی نسته؛ ځکه هر څه د حق تعالی په هستی کي نغښتي دي[2] . »
پروفیسر نیکلسن د وحدت الوجود د عرفاني او فلسفي مکتب د ستر سالار - محی الدین ابن عربي ( ۵۶۰ - ۶۳۸ هـ ق) د عقایدو په رڼا کي د عرفاني رازو د ساتني په باب داسي لیکي : « د ابن عربي په اند، ابدي او بې ساري دوه داسي اړخونه دي، چي دواړه یوبل ته اړتیا لري . مخلوقات د خالق بهرنۍ نخښي یا مظهرونه دي . انسان د خدای تعالی داسي راز یا سِر دئ، چي په پیداینت کي څرگند سوئ دئ . انسان د خپل مغز د محدودیت له امله نسي کولای، په یوه وخت کي د تفکر وړ ټولو شیانو په باب سوچ وکړي . له دې امله، یوازي د الهي پوهي یوه برخه څرگندولای سي . دې استدلال ته په پاملرني سره، له انسان سره دانه ښایي، چي « اناالحق » ووایي . انسان یو حقیقت دئ؛ خو یوازنی حقیقت نه دئ . نور عارفان، د مثال په توگه مولانا جلال الدین رومي ( ۶۰۴ - ۶۷۲ هـ ق ) د بې سدۍ او سُکر په شېبو کي دې باریک او ظریفانه جلاوالي ته پام نه کیي[3] . » پوهاندنیکلسن په خپل ارزښتناک اثر کي د عرفاني اسرارو په اړه د مولانا جلال الدین بلخي رومي دا نظر راوړي : « صوفیان په خپلو بیانو او آثارو کي سمبولونه او نخښي کاریي؛ ځکه بله داسي لار نسته، چي د هغوی صوفیانه موندني او مُکاشفي تفسیر کړي[4] . »

وتلي عرفاني شېخ - عزیزالدین نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق ) دعرفاني رازو د ساتني په باب وایي : « هر څوک چي مَیَن سي؛ او خپله مینه څرگنده کړي، هغه پلیت پاتیږي؛ ځکه هغه اور چي د سترگو له لاري د ده وجود ته ننوتلئ دئ، د ژبي له لاري وزي . د داسي چا زړه نیم سوخته پاتیږي . په دې زړه هېڅ جوړه نه ده . داسي زړه نه د دونیا د کار دئ؛ او نه هم د عقبا او مولا [5] . »

د معرفت په پوهه او اسرارو خبر عرفاني لاربنود- پیر روښان ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) له ناپوهو او بې خبره کسانو سره د خبرو او استدلال پر مهال، د حضرت محمد ( ص ) دې لوړ حدیث ته گوته نیسي : « تکلمو الناس علی قدر عقولهم » یاني له خلگو سره د هغوی د عقلو په گچه خبري کوئ[6] . د دې مبارک حدیث یادونه دا حقیقت بیانیي، چي جاهل او بې خبره انسان ته باید هېڅکله هغه رازونه ونه ویل سي، چي مغز او اروا یې و پوهېدو او منلو ته تیار نه یي؛ ځکه د سنده په غوړ کي د سورنا وهل یا د کوچنیانو په مخ کي د مرغلرو اېښوول، هېڅ گټه نه لري .

متصوفین او عارفان پر دې عرفاني اصل باور لري : « من عرف الله کل لسانه » یاني هر چا چي خدای و پېژندئ، د هغه ژبه گونگی سوه . ځیني عارفان، معرفت د نبي علیه السلام راز بولي؛ او په خپل ټول ځواک سره هڅه کیي د هغه له بربنډ کولو ډډه وکړي . زموږ واقف الاسرار عرفاني شاعر ، علي محمد مخلص، هم د عرفاني رازو په ساتنه کي ژور او په زړه پوري بیانونه لري . په یوه پارسي قطعه کي همدا لوړ عرفاني اصل داسي بیانیي :

« هر که شناخت حق تعالی را
گنگ کرده زبان ز گفتن حال
عارفان ساده ترند یار عزیز
نتوان گفت کشف حال ز قال [7] »

همدا مسأله، د زموږ د زماني د نامتو عرفاني مفکر- علامه اقبال لاهوري ( ۱۲۹۴هـ ق/ ۱۸۷۶ع - ۱۳۵۷هـ ق/ ۱۹۳۸ع) په یوه پارسي غزله کي داسي بیان سوې ده :

« برهنه حرف نگفتن کمال گویائی است

حدیث خلوتیان جز به رمز و ایما نیست ٨ »

مخلص، په یوه ښکلي غزله کي د معرفت سالکانو ته د عرفاني راز ساتني ټول اړخونه ښيي . هغه، په دې غزله کي سالکانو ته سلا ورکيي، چي هيڅکله درود یا سيندپه څېر په شرپ او شرنګي و نه بهيږي، بلکي همېشه د د رياب یا سمندر په شان په پټه خوله او بې ساري پرتم، خپله لار پرمخ ووهي . مخلص، هم د وتلي عارف، حضرت شبلي قدس الله روحه، له بيان سره سم د رازونو بربندول، دکوپر (کفر) نخښه بولي؛ او د عرفان لارويانو ته په ډاګه خبرداری ورکوي، چي ځانونه د کاپيرانو له ډلي ليري وساتي .

که عارف کل اللسان يي مه ويــــيږه!
د اسرار خبره مه کړه وسهيږه!
د اسرار خبره پټه پُر رموز کــړه!
د عارف کــل اللسان په دود غـږيږه!
ديټ راز خبري څه وايي څرګنــدي
د پټ ځان له حالـــه مه وايه شرميږه!
رود هلکه غورځي په زوره که په تله کښي
ته درياب په څېر خامـــوش قرار بهيږه!
مښک برسيره ژر له بويه شي بې بويــــه
د زړه حال برسيره مـــه کړه و پوهيږه!
هر چي سِر د حق برهنه کاندي کافــر شي
ته پر صف د کافرانو مـــه دريږه!
ته ګفتار د شريعـــت وايه په ژبه
په احوال د حقيقت پر زړه خوښــيږه!
معرفت د نبي سِر دئ فاش يي مــه کړه!
ښه اسرار د نبي پټ کړه مـــه رېږيږه!

په بله غزله کي پر غيب او اسرارو ايمان لرل، يوازي د هغه مؤمن برخه بولي، چي د ريښتيني توحيد مقام ته رسېدلئ يي، نه د هغه مُشرِک، چي زړه يي د بېلابېلو پردو او خنډو له امله د حقيقت نور نسي ليدلای :

مُشرِک نه دئ له اسراره برخوردار هيــڅ
فهم نه لري يقين کړي په ګفتار هيـــڅ
زيات يي شِرْک کلام ظاهر شي په صورت کښي
د جاهل د وړاندي پوهه د اسرار هيـــڅ
هر چي يو په ډېري ياد کـــاندي مُشرِک دئ
د توحيد له عِلمه نه دئ خبردار هيـــڅ

په يوه ښکلي مناجات کي د اسرارو او رازو د نه رسواکولو منطق په دې کي ګوري، چي د زړو مالک خپله په هر څه خبر دئ؛ ښکاره کولو او غرغرو تې ( ته يې) هيڅ حاجت نسته . دی وايي :

ته عليم د زړه له حاله خبردار يې !
په زبان ويلئ نشم پټ اسرار زه

د مخلص په نظر باید د معرفت رازونه  یوازي د حق پلویانو ته وویل سي :

« . . .  هر که را بینی که از گفتار حـــق

بد برد با او مگو اسرار حـــــق . . . ۹  »

په دې پاړسي بیتو کي، ناپوهوته د پوهي او عرفان د خبرو ویل، پر غوړ لوښي د اوبو پاشل ګڼي :

«  بر سبو پُر گر ریزی تـــو آب

جایگیرد و برفـــتد اندر تراب

هر که پرُ باشد ز جهل و احمـقی

پند تو نه پذیرد آن گرگ شـقی ۱۰ »

مخلص، منافقان هم د ناپوهانو په څېر هغه کسان بولي، چي د حقیقت خبري نسي زغملای؛ له دې امله باید د عرفاني  رازو له خبرېدو لیري وساتل سي :

« گر منافق را بگویی عیـب او

خوش نه گردد گر بگوی ریـــب او

بل گردد دشمن تو جان ستان

حق مگو در پیش احمق ای جوان ۱۱ »

د معرفت په اسرارو خبر عارف، علي محمد مخلص، په دې پاړسي بیتوکي د اسرارو د ساتني منطقي او عقلاني دلیلونه داسي څرګندیي  :

« مشک تا در نافه است خوشبو بود

ز نافه بر کشـــــــــــــیدی بو رود

حال را در دل نگاه کن زین دلیـــــل

تا نگردد حال تو در قال و قیــــل۱۲ »

د نور مالومات دپاره وګورئ :  د پوهي او عقل تر سر لیک لاندي « باطني پوهه  » ، « حقیقي پوهه » او « لدني پوهه  »

لمنلیکونه

۱ یثربی_۵۴ .

2 Nicholson 152.

3 Nicholson 155.

4 Nicholson 103.

۵  نسفی، انسان الکامل ۱۱۸ .

۶  مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان  ۱۹۷ .

۷  مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان  ۸۶ .

۸- لاهوری۱۶۰.

۹ مخلص،  حالنامهٔ بایزید روښان  ۶۶۸ .

۱۰ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۱۹۸ .
۱۱ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۲۳۶ .
۱۲ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۱۰۳- ۱۰۴ .